# د سليمان ښکلي غزلونه

## د کتاب پېژندنه

د سليمان غزلونه د ښکلو شعرونو يوه مجموعه ده چې عاشق او معشوقه د يو او بل صفت کوي. په اصلي عبرانۍ کې دا کتاب د سليمان په نامه نومول شوی دی.

يهوديان وايي چې د سليمان غزلونه د خدای او د هغه د غوره شوي قوم ترمنځ اړيکه بيانوي. د مسيح پېروان وايي چې د سليمان غزلونه د عيسی مسيح او د کليسا تر منځ يوه روحاني اړيکه ده. د سپېڅلي کتاب پوهان په دې باندې پوهيږي چې د دې کتاب غزلونه په پوره توګه د مينې د شعرونو په شان دي چې په لرغونې يا پخوانۍ زمانه کې په اسراييلو کې پيدا شوي دي.

په دې شعرونو کې يو عاشق او يوه معشوقه د يو بل سره خپله


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مینه ښکاره کوي او د اورشلیم ښځې د هغوی د مینې ستاینه کوي.

کېدای شي دا عجیبه ښکاره شي چې په یو سپېڅلي کتاب کې د مینې په هکله خبرې وکړي، خو واده د ژوند یوه مهمه برخه ده چې د خدای له خوا پلان شوې ده.

## د موضوعګانو لست

لومړی غزل: یو او بل ته د مینې ښکاره‌کول: ۱:۱ – ۲:۷

دوهم غزل: د عاشق او معشوقې لېوالتیا یو او بل ته: ۲:۸ – ۳:۵

درېیم غزل: د عشق خوند: ۳:۶ – ۵:۱

څلورم غزل: د بېلتون رنځ او پېوستون ته لېوالتیا: ۵:۲ – ۶:۳

پنځم غزل: د عاشق او معشوقې توصیف یو او بل ته: ۶:۴ – ۸:۴

شپږم غزل: د تلپاتې مینې ښکاره‌کول: ۸:۵–۱۴



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ د سلېمان ډېر ښکلی غزل.

# لومړی غزل: يو او بل ته د مينې ښرګندول

معشوقه

٢ په خپلو شونډو سره ښکل کړه ما

ځکه چې خوندوره ده مينه ستا

له شرابو ښخه ډېره

٣ ستا د عطرو خوشبويي ده ډېره خوندوره

ستا نوم دی د هغو عطرو په شان

چې خپريږي هري خواته

نو ځکه پېغلې درسره کړي مينه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ما د ځانه سره بوځه ځه چې تښتو

ته مې پاچا شه او ما بوځه خپل د خوب کوټې ته

د اورشليم پېغلې

څومره خوشحاله يو مونږ ستا دپاره اى پاچا

مونږ به ستاينه ستا د مينې کوو له شرابو زياته

په رښتيا پېغلې مييني دي په تا

معشوقه

۵ اى د اورشليم پېغلو زه توره يمه خو ښکلې يمه

داسې توره يمه لکه خېمې د قيدار

او داسې ښکلې يمه لکه پردې د سلېمان د خېمې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٦ ما ته مه ګورئ ځکه چې توره يمه

لمر تور کړی دی پوستکی زما

زما ورونه وو په قهر راباندې

او کړم يې مجبوره چې ساتنه وکړم

زه د انګورو د باغ

نو په خپل ځان باندې مې ونه کړ پام

٧ ما ته ووايه ای جانانه زما

خپله رمه دې څروې چېرته؟

چېرته پرېږدې ته خپله رمه غرمه کې

چې ارام وکړي؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه ولې شمه سرګردانه د فاحشې په شان

او وګرځمه ستا د دوستانو په رمو کې

عاشق

٨ ای په ټولو ښځو کې ډېرې ښکلې ښځې

که چېرې نه پوهېږې

نو تعقیب کړه د رمې د پلونو نښې

او وڅروه خپلې څوانې وزې

ته د شپنو د خېمو په څوا کې

٩ ته ډېره ښکلې يې محبوبې زما

د هغې اسپې په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې کشوي جنګې ګاډی د فرعون

۱۰ خومره ښایسته دي اننګې ستا

اور لګولی غوږوالیو ستا

خومره ښکلې ده غاړه ستا

په تار د جواهرو

۱۱ مونږ به کړو جوړې د سرو زرو غوږوالی درته

او مرۍ ګانې د سپینو زرو درته

معشوقه

۱۲ پاچا پروت دی په خپل کټ کې

او دی نشه شوی هغه زما د عطرو په بوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ زما جانان دی لکه کخوړه د مر

شپه تېروي زما په سينه باندې

۱۴ زما جانان دی د نکريزو د ګېډۍ په شان

چې راشنې کيږي د انګورو په باغونو کې

د عين‌جدي

عاشق

۱۵ ای محبوبې زما خومره ښکلې يې ته

خومره ښکلې يې ته

سترګې دې دي لکه کوترو په شان

معشوقه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦ اى جانانه زما ثومره ښکلى يې ته

ثومره زړه وړونکى يې ته

شنه وابنه به وي زمونږ بستره

١٧ لرګي د سبر به وي زمونږ د جونګړې تيران

او د نښتر ونه به وي زمونږه چت د کوټې

١ زه د شارون د ډاګ يو ځنګلي ګل يمه

او د درو د لاله ګل يمه زه

عاشق

٢ لکه اغزو کې د لاله ګل په شان

داسې زما محبوبه ده د پېغلو منځ کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

معشوقه

۳ لکه چې ونه د مڼو وي د ځنګل په منځ کې

داسې زما جانان دی د ځوانانو منځ کې

کښېنم خوشحاله د هغو د سیورې لاندې

او مېوه یې خوږه لګیږي زما په خوله کې

۴ هغه زه راوستلم د مېلمستیا سالون ته

او بیرغ د عشق یې زما په سر ودراوه

۵ ما قوي کړئ په کشمشو باندې

او تازه مې کړئ په مڼو باندې

ځکه زه ستا په مینه کې ناروغه یمه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۶ د هغه چپ لاس دی زما د سر لاندې

او په ښي لاس هغه ما غېږ کې نیسي

۷ ای د اورشلیم پېغلو تاسو قسم وخورئ

په غرڅو او ځنګلي هوسیو باندې

تر هغې چې وخت سم نه وي مینه مه راویښنوئ

# دوهم غزل: د عاشق او معشوقې لیوالتیا یو او بل ته

معشوقه

۸ واورئ زما د جانان اواز

ګورئ هغه دی راروان

هغه ټوپونه وهي غرونو باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او وهي منډې په غونډیو باندې

(۹) زما جانان دی د غرځه او یا د هوسۍ د بچي په شان

ګورئ هغه ولاړ دی د دېوال شاته

هغه ګوري د کړکۍ نه

په ځير ګوري د پنجرې نه (۱۰) زما جانان زما سره
خبرې وکړې او راته ویې ویل:

عاشق

زما محبوبې راپاځه ای زما ښایسته محبوبې

ما سره لاړه شه

(۱۱) ګورئ ژمی تېر شو

نور به نه وي باران


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ شول راښکاره ګلان په ځمکه باندې

او رارسېدلی وخت د سندرو

اورېدل کېږي زمونږ وطن کې د کوترو اواز

۱۳ مېوه نیسي د انځرو ونې

غوټۍ نیولې د انګور تاکونو

او ورکوي خوشبویي

زما محبوبې راپاځه ای زما ښایسته محبوبې

ما سره لاړه شه

۱۴ ای کوترې زما چې ته پټېږې د ګټونو په چاودونو

او د ګړنګ په چاودونو کې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پر پړده چې وګورمه مخ ستا

پر پړده چې واورمه اواز ستا

ځکه چې خوږ دی ستا اواز

او ښکلی دی مخ ستا

معشوقه

۱۵ ګیدړان ونیسه زمونږ دپاره

واړه ګیدړان چې خرابوي زمونږ تاکونه

ځکه غوټۍ نیولې زمونږ تاکونو

۱۶ جانان زما او زه د جانان یم

د لاله ګلونو منځ کې خوند اخلي هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ ترڅو رارسي سهار او ورکيږي تياره

ما نه لاړ شه زما جانانه لکه غرڅه په شان

يا د هوسۍ د بچي په شان په سختو غرونو باندې

۱ د شپې چې زه ومه پرته خپل کټ کې

ما کولو ارمان د هغه چا سره چې مينه لرم

ما کاوه د هغه ارمان خو هغه رانغی

۲ زه به پاڅيږم اوس او وبه ګرځم په ټول ښار کې

په کوڅو او په چوکونو کې

وبه ګرځم د هغه چا پسې چې کوم ورسره مينه

وګرځېدم زه په هغه پسې خو پيدا مې نه کړ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ څوکیدارانو ولیدلم زه

کله هغوی چې ګرځېدل په ښار کې

ما پوښتنه وکړه چې تاسو لیدلی هغه کس

چې لرم ورسره مینه؟

۴ څنګه چې لېرې شوم هغوی نه

ما هغه کس پیدا کړ چې مینه لرم ورسره

هغه مې کلک ونیوه او ما پرېښنبوده چې لاړ شي

وروسته مې هغه راوستلو د خپلې مور کور ته

هغې کوټې ته چې مې مور وم زېږولی په کې

۵ ای د اورشلیم پېغلو تاسو قسم وخورئ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په غرڅو او ځنګلي هوسيو باندې

تر هغې چې وخت سم نه وي مينه مه راويښوئ

## دريم غزل: د عشق خوند

معشوقه

۶ هغه څه شی دی چې راروان دی له بيابان نه

اوچتيږي دوړه لکه ستنې د لوګي په شان

چې راروان دی د مر د عطرو او قيمتي خوشبويۍ سره

د هغو ټولو خوشبويۍ سره چې سوداګر يې راوړي

۷ ګورئ دا دی روان تخت د سليمان

چې بدرګه کيږي د شپيتو قوي کسانو سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د اسراييلو د قوي عسکرو سره

٨ هغوی سمبال دي تېول په تورو باندې

او دي ماهر په جنګ کې

د هر يو سره ده توره او تيار دي

چې دي تيار د شپې حملې دپاره

٩ دی جوړ کړی روان تخت سليمان پاچا

د خپل ځان دپاره د لبنان له لرګو

١٠ د هغه پايې يې وپوښلې په سپينو زرو باندې

شا يې له سرو زرو څخه

او چوکی يې د بانجاني پوښ څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دنننی برخه یې سینګار شوې وه په مینه

د اورشلیم د پېغلو له خوا

11 بیرون راوځئ ای د صهیون پېغلو!

او وګورئ سلیمان پاچا ته

هغه تاج چې مور یې ایښی ؤ په سر ورته

د هغه د واده په ورځ

د هغه د خوشحالۍ په ورځ

عاشق

1 ای زما محبوبې ښکلې یې ته

ښکلې یې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستر‌ګې دې دي لکه کوترو په شان

ښکاري ستا د ټيکري تر شا

ستا ويښتان وهي څپې لکه رمه د وزو

چې راکوزيږي د جلعاد د غره نه

۲ ستا غاښونه دي سپينو ميږو په شان

چې وړی ترې لېرې شوې او وينځل شوې وي

هر يو غاښ دې دی جوړه د بل يو غاښ سره

يو يې هم نه دی ورک

۳ شونډې دې دي د سرې ټوټې په شان

خوله دې ده ښکلې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ستا اننګي دي د سرو انارو په شان

چې ښکاري ستا د ټيکري شاته

4 ښکلې ده غاړه ستا داود د برج په شان

ستا غاړکۍ ده ځړېدلې هلته

د جنګياليو د زرو سپرونو په شان

5 ستا سينې دي د غرځه غبرګوني بچيو په شان

چې څريږي د لاله ګلانو منځ کې

6 ترڅو رارسي سهار او ورکيږي تياره

زه به ورشمه د مر غره ته

او د قيمتي خوشبويۍ غونډۍ ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ته بيخي ښکلې يې زما محبوبې

نشته هېڅ عيب په تا کې

۸ ما سره راشه ای زما ناوې د لبنان نه

ما سره راشه د لبنان د غره له څوکې

شه راکوزه د امانه د غره له څوکې

د سنير يعنې د حرمون د غره له څوکې

چېرته چې دي د زمرو غارونه

او د پړانګانو غونډۍ

۹ زما محبوبې زما ناوې ما نه دې وړی دی زړه

په يو نظر دې زما زړه وړی دی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د غاړکی یو غمی چې اچولې دې ده په خپله غاړه

١٠ څه خوندوره ده ستا مینه

ای زما محبوبې زما ناوې

خومره ښه ده د شرابو نه ستا مینه

او د هرې بلې خوشبويي نه ستا عطر

١١ زما ناوې ستا د شونډو نه شات راڅاڅي

دي پراته شات او شيدې ستا د ژبې لاندې

داسې خوشبويي راځي ستا کاليو نه لکه سروې د لبنان

١٢ ته زما باغچه يې ای زما محبوبې زما ناوې

خاصه چينه يې ته او پټه شوې فواره يې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ ستا نیالګي دي د انارو باغ په شان

د خوندورو مېوو نه ډک

او پرېمانه بوټي چې حاصل ورکوي

د نکریزو او خوشبویه عطرو په شان

۱۴ تا کې شنه کېږي خوشبویه عطر او زعفران

دالچیني او هر ډول خوشبویه بوټي

لکه مر او عود او ټول ډېر خوارِه عطرونه

۱۵ ته چینه یې د باغ او د تازه اوبو څاه

ویالې چې رابهیږي د لبنان له غرو نه

**معشوقه**



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ راوالوځه ای د شمال باده

او راشه ای د جنوب باده

راوالوځه زما په باغ باندې

او خپره کړه خوشبويي د هغه هرې خواته

خپل باغ ته راشه زما جانانه

او خوندوره مېوه د هغه وخوره

عاشق

۱ ای زما محبوبې ای زما ناوې

راغلم زه تا ته يعنې خپل باغ ته

راټولوم زه مر او عطر خپل


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زه خورمه خپل شات د ګبين سره

څښمه شراب او شيدې خپلې

د اورشليم پېغلې

اى عاشقانو وخورئ او وڅښئ

او شئ نشه مينه کې

# څلورم غزل: د بېلتون رنځ او پېوستون ته لېوالتيا

معشوقه

٢ زه وم ويده خو زړه مې ؤ بېداره

اواز مې واورېده د خپل جانان

چې ټکوي دروازه او وايي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عاشق

زما مينې زما محبوبې ما پرپرده چې راننوځم

زما محبوبې ای زما کوترې ته چې كامله يې

لوند شوی سر زما په پرخه باندې

او د شپې پرخې مې لامده کړي دي ويښتان

معشوقه

٣ ما خپل کالي وويستل

څنګه کولای شم چې بيا يې واغوندم؟

ومې وينځلې خپلې پښې

څنګه کولای شم چې بيا يې کړم چټلې؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ هڅه وکړه زما جانان چې کړي خلاصه دروازه

نو لړزېده مې زړه هغه دپاره

۵ زه راپاڅېدم چې کړم خلاصه دروازه

د خپل جانان دپاره

زما د لاسونو نه په څڅېدو شول مر

زما له ګوتو څڅېدل ښکلي مر

کله چې ما راښکلو د دروازې قلفک

۶ ما دروازه خلاصه کړه خپل جانان ته

خو هغه تللی ؤ

ډېر مې غوښته چې اواز د هغه واورم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه مې ولټاوه خو پیدا مې نه کړ

ما ورته وکړ اواز خو هغه رانه کړ ځواب

٧ څوکیداران چې ګرځېدل په ښار کې

زه یې پیدا کړم

هغوی زه ووهلم او زخمي یې کړمه

زما نه یې لېرې کړ پوړنی څوکیدارانو

چې ساتنه یې د ښار د دېوالو کوله

٨ ای د اورشلیم پېغلو ما سره وکړئ قسم

که مو پیدا کړلو جانان زما

نو ورته ووایئ چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه ستا په مینه کې ناروغه یمه

د اورشلیم پېغلې

٩ ای په ټولو ښځو کې ښکلې ښځې

ولې د نورو نه بهتر دی جانان ستا

ستا جانان څه برتري لري له نورو څخه

چې مونږ ته د هغه په سر قسم راکوې؟

معشوقه

١٠ زما جانان دی ښکلی او صحتمند دی

او دی ډېر غوره هغه د زرګونو خلکو څخه

١١ د هغه مخ ځلیږي سوچه سرو زرو په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ويښتان يې دي ول په ول

او دي تور لکه کارغه په شان

١٢ د هغه سترګې دي لکه کوترو په شان

چې وي ناستې د ويالو په غاړه

داسې سپينې لکه شيدو په شان

چې وي ناستې د ډنډ په غاړه

١٣ اننګي دي د هغه خوشبويه د هغه باغ په شان

چې وي ډک د خوشبويه بوټو څخه

توليدوي هغه خوشبويه عطر

د هغه شونډې دي د لاله ګلونو په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ترې خاخې عطر د مر

۱۴ د هغه متې دي د سرو زرو میلو په شان

چې سینګار شوې په جواهرو باندې

بدن یې ښوی دی د فیل غاښونو په شان

چې سینګار شوی په لاجوردو باندې

۱۵ د هغه پښې دي د مرمرو د ستنو په شان

چې لګېدلې د سرو زرو په پایو کې

د هغه شکل دی لبنان د غرونو

او د سبر د لوړو ونو په شان

۱۶ ډېر خواږه دي ښکلول د هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هر لحاظ دی زړه رابنکونکی هغه

نو ای د اورشلیم پېغلو

زما جانان دی هغه او دی ملګری زما

د اورشلیم پېغلې

١ ای په ټولو پېغلو کې ښکلې پېغلې

جانان دې چېرته تللی؟

په کومه لاره تللی؟

چې لاړ شو تا سره او ولټوو هغه

معشوقه

٢ زما جانان راغلی ما ته یعنې خپل باغ ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځای ته چې شنه کیږي د عطرو بوټي

چې وڅروي خپله رمه په باغ کې

او ترې راټول کړي د لاله ګلونه

۳ جانان زما او زه د جانان یم

څروي هغه خپله رمه د لاله ګلانو منځ کې

## پنځم غزل: د عاشق او معشوقې صفت یو او بل ته

عاشق

۴ ته یې ښکلې لکه ترصه د ښار په شان

او یې ښکلی د اورشلیم په شان

داسې شانداره یې ته چې وې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لښکر د بیرغونو سره

٥ ستړګې دې واړوه له ما نه

لېونی کړی یمه ستا سترګو

ستا ویښتان وهي ځپې لکه رمه د تورو وزو

چې راکوزیږي د جلعاد د غره نه

٦ ستا غاښونه دي د سپینو مېږو په شان

چې وینځل شوي وي تازه

هر یو غاښ دې دی جوړه د بل یو غاښ سره

یو یې هم نه دی ورک

٧ ستا اننګې دي د سرو انارو په شان



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې ښکارې ستا د ټيکرې لاندې نه

٨ په شپېتو ملکو او اتيا وينځو کې

او بې‌شمېره پېغلو کې

٩ زه خوښوم خپله کوتره چې کامله او بې‌مثاله ده

چې ډېره خوښه ده د خپلې مور سره

په هغه چا ده ګرانه چې زېږولې يې ده

کله چې پېغلې ويني هغه نو مبارکه يې ګڼې

ملکې او وينځې هم کوي ستاينه د هغې او وايي

١٠ هغه څوک ده چې ځليږي په شان لکه د سهار رڼا

لکه سپوږمۍ په شان ښکلې او د لمر په شان ځليږي



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ده شانداره هغه داسې چې وي لښکر د بيرغونو سره؟

معشوقه

١١ زه د چارمغزو باغ ته لاړمه

چې ووينم نوي شنه بوټي په دره کې

او ووينم ايا انګورو دي نيولې غوټۍ

چې انارو دي نيولي ګلان او که نه

١٢ زه له هيجانه رپېدلم

لکه سپره چې يمه شاهي ګاډۍ کې

د اورشليم پېغلې

١٣ بېرته راشه او راشه بېرته ای د شولم د کلي پېغلې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېرته راشه او راشه بېرته چې مونږ دې وګورو بیا

معشوقه

ولې ګورئ ما ته د شولم پېغلې ته

چې کړم ګډا د نورو خلکو سره؟

عاشق

① ای د شهزاده لورې!

خومره ښکلې ښکارې پښې دې په څپلیو کې

ستا ګرد ورنونه دي جواهراتو په شان

چې وي جوړ کړي یو ماهر کسبګر

② ستا د نامه غوټۍ ده شرابو جام په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تل ډک دی د شرابو څخه

ستا خېټه ده لکه د غنمو د ډېرۍ په شان

چې ښنډه یې ده د لاله ګلونو په شان

۳ ستا سینې دې لکه

د غرڅه غبرګونو بچیو په شان

۴ ستا غاړه ده لکه د عاج د منارې په شان

او ځلېدونکې دې ستا سترګې د حشبون د ډنډونو په شان

هغه ډنډونه چې نژدې دي دروازې ته د بیت‌ربیم

پوزه دې جګه ده لکه برج د لبنان

چې دمشق ته مخامخ دی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ سر دې لوړ دی د کرمل د غره په شان

ستا ویښتان دي د شاهانه پردې په شان

پاچاهان هم دي اسیران ستا د ویښتو په تارونو کې

۶ ای زما محبوبې ځومره ښکلې او په زړه پورې یې ته

څومره یې ډکه له خوشحالیو څخه

۷ قد دې دی لکه د خرما ونې په شان

ستا سینې دي لکه غونچې د مېوې

۸ ما ویل چې زه به خېژم د خرما ونې ته

او لاس به وهمه په مېوه د هغې

ستا سینې دې وي د انګورو د غونچو په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او خوشبويي دي د خولې وي لکه منهو په شان

۹ دي ښکلول دې خوندور د ښو شرابو په شان

معشوقه

پر پړده جاري شي دا شراب زما د جانان خواته

چې وبهيږي په شونډو او غاښو د هغه

۱۰ زه د جانان يم

او هغه ما غواړي

۱۱ زما جانانه راځه چې لاړ شو د ښار نه بهر

او تيره کړو شپه د نکريزو د بوټو لاندې

۱۲ راځه چې پاخيږو سهار وختي او لاړ شو انګورو باغ ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې وګورو غوټۍ نيولې دي تاکونو که نه

او ګلان نيولي دي تاکونو که نه

او چې انارو ګلان کړي که نه

هلته به وښايم تا ته زه خپله مينه

۱۳ ورکوي هلته مړه‌غونې بوټي خوشبويي خپله

او ټولې ښې مېوې دي زمونږ دروازې سره

ای زما جانانه ما ساتلې تا ته

زاړه او نوي خوندور شيان

۱ کاشکې ته وای زما ورور

چې مې مور ورته تی ورکړی وای


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې مې ليدلې ته بيرون له کور نه

ما ښکلولې به ته او چا به نه رټلم

٢ بيا به بېولې ما د خپلې مور کور ته

هلته به زما مور را زده کول ما ته

ما درکول به تا ته خوندور شراب

او خپلو انارو خوږ شربت

٣ د هغه چپ لاس دی زما د سر لاندې

او په ښي لاس هغه ما غېږ کې نيسي

٤ ای د اورشليم پېغلو تاسو قسم وخورئ

تر هغې چې وخت سم نه وي مينه مه راويښوئ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# شپږم غزل: د تلپاتې مينې څرګندول

د اورشليم پېغلې

۵ دا ده څوک چې ده راروانه له بيابان

چې يې کړې ده تکيه په اوږې د خپل جانان؟

معشوقه

ما راويښ کړې ته منهو د ونې لاندې

چېرته چې مور دې ډېر تکليف سره زېږولې وې ته

چېرته چې ته هغې راوړې يې دې دنيا ته

۶ ولګوه زما مينه په خپل زړه باندې لکه د مهر په شان

په خپل لاس باندې لکه بازوبند په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې مینه زوروره ده لکه د مرګ په شان

داسې قوي دی غیرت لکه د مرګ په شان

هغه سوځي لکه لمبو په شان

او سوځي لکه سخت اور په شان

٧ ډیرې اوبه د مینې اور مړ کولای نه شي

او نه يې وړلی شي سیندونه

که څوک وغواړي چې مینه واخلي

په خپلې ټولې شتمنی باندې

هغه به سپک شي په پوره توګه

د پیغلې ورونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ مونږ کوچنۍ خور لرو

چې غټې شوې يې لا نه دي سينې

که څوک راشي او هغه وغواړي زمونږ نه

نو مونږ به څه کوو؟

٩ که هغه پېغله وي لکه دېوال په شان

نو مونږ به جوړ کړو ورته ځلی د سپينو زرو

که هغه وي دروازه

نو هغه به بنده کړو د سبر په تختو باندې

معشوقه

١٠ زه وم لکه دېوال په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو اوس داسې غټې دي سينې مې

لکه د برجونو په شان

کله چې ګوري زما جانان ما ته

نو خوشحالېږي هغه زما په کتلو باندې

١١ په بعل‌هامون کې ؤ د سليمان د انګورو باغ

بزګرانو ته يې ورکړی ؤ په اجاره باندې

ورکولې د مېوو بدل کې به هر يو

ورته زر ټوټې د سپينو زرو

١٢ زما د انګورو باغ دی يوازې زما چې ورکوم يې چا ته

اړتيا نشته سليمان ته چې ورکړي زر ټوټې د سپينو
زرو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو دوه سوه ټوټې دي هغه چا دپاره

څوک چې پام کوي تاکونو باندې

عاشق

۱۳ ای زما محبوبې ته چې اوسېږې باغ کې

دوستان زما په انتظار دي چې اواز دې واوري

خو يوازې زه غواړم چې اواز دې واورم

معشوقه

۱۴ زما جانانه زر په منډه راشه

د غرڅه او هوسۍ د بچي په شان

خوشبويه غرونو باندې

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳